SHARIAT WEEKLY

شریعت اوونیزه

په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

دریم کال اوه اتیایمه گڼه پرله پسي (۱۸۷) یکشنبه د۱۴۱۹ هق کال د شعبان المعظم (۱۷) د۱۳۷۷ هـ ش کال د لندي دمیاشتي(۱۵) د۱۹۹۸میلادي کال د دسمبر (۶)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

کوفي عنان در گزارش خود به شوراي امنیت سازمان ملل متحد :

مخالفان طالبان بحیث قوت مؤثر از صحنه خارج شده اند

مداخلات خارجي در امور افغانستان به شدت ادامه دارد

نیویارك: کوفي عنان سرمنشي عمومي سازمان ملل متحد طي ارائه گزارش خود در قبال قضیه افغانستان به شوراي امنیت گفت که ادامه بحران تنها بدوش افغانها نبوده بلکه مداخلات خارجي یکي از علل عمده ادامه درگیري ها در افغانستان است .

سرمنشي عمومي سازمان ملل در گزارش نزده صفحه يي اش به شوراي امنیت ابراز داشت که پس کنترول بخش اعظم افغانستان بوسیله طالبان، سایر جناح هاي افغاني از صحنه خارج شده، تنها احمد شاه مسعود بحیث طرف مخالف علیه طالبان مقاومت مي کند. ص۴

د مجاهدینو ۲۸۰۰ قاتلو کمونستانو ته امریکي پناه ورکړېده

په دوی کی د نجیب نږدی ملګري اسحق توخي هم شامل دي

د پل چرخي په بند کي سزاورکوونکي واکداران کمونستان او د ببرک کارمل د حکومت په وخت کي د مجاهدينو ۲۸۰۰ قاتلو کمونستانو ته امریکي قبولي ورکړې ده چي بدي کي د مجاهدينو نا حقه وينه توييرونکي اسحاق توخي لس کاله د امریکا د مفاداتو پر خلاف سرگرمي کي مصروف ؤ کوم چي په کابل باندي د حملي په وخت د نجيب وررور احمد ځلورم مخ

جنرال دوستم کمونیست او د کا.جی.بی اجنټ ؤ

انجنير محمد نسيم مهدي

د افغانستان له اسلامي امارت سره د جنبش يو ځاي شوي مشر انجنير محمد نسيم مهدي ويلي دي چي جنرال دوستم پوخ کمونست او د کا.جي.بي اجنت ؤ مهدي زياته کړه چي په شمال کي د شورشونو خبره هيڅ اساس نه لري او همي افواه ده .

انجنير مهدي وويل چي هلته د تشويش ور هيڅ خبره نشته، هلته بشپړ امنيت دي او خلك په عادي توګه خپل کار کوي.

د روژي د مبارکي میاشتي د رارسیدو په درناوي او د امیر المؤمنین د ځانګري فرمان له مخي:

۱۱۸ بندیان د څرخي پله له زندان نه خوشي شول

د چارو د مسؤولینو لخوا آزاد شوي بندیان د اسلام او هیواد خدمت کولو ته وهڅول شول

د روژي د مبارکي مياشتي د وارسيدو په درناوي او د امير المؤمنين د ځانګري فرمان له مخي ۱۱۸ بنديان د څرخي پله له زندان نه خوشي شول

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي د څرخي پله له زندان څخه په نظار شوري پوري مربوط ۱۱۸ تنه بنديان د روژي د مبارکي مياشتي په وارسيدو او د عاليقدر اميرالمؤمنين د فرمان له مخي د دفاع وزارت د سرپرست محترم الحاج ملا عبيد الله اخند تر څارني لاندي له زندان نه خوشي شول .

د چارو مسؤولينو د خپلو وينااوو په ترڅ کي له زندان نه خوشي شوي بنديان د محمدي «ص» غـرا شريعت او هغه څه چي اسلامي امارت د دوي سوکالي او د هيواد د اتباعو د امنيت د تينګښت لپاره د اسلام د سپيڅلي دين په رڼا کي را مينځته کړي خپلو مسؤليتونو او وجايبو ته ځير کړل او خلکو او هيواد ته د خدمت په لاره کي د لوي خـداي«ج» له دربارنه د دوي د لا زيات بـري هيله وکړه .

د شیعه ورونو یوه مذهبي غونډه د چنداولو په عمومي حسینیه کي جوړه شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : په دغي غونډه کي د کابل ښار زيات شمير عالمانو او ديندارو خلکو ګډون کړي و .

په پيل کي د قرآن عظيم الشان څو مبارك آيتونه ولوستل شول وريسي محترم طالب العلم ذکريا ، محترم ښاغلي موسوي او محترم حجت الاسلام سيد محمد عالم ابراهيمي په وار سره د اسلام له پلوه د حضرت حجت ابن الحسن د ستر شخصيت په باب اوږدي خبري وکړي .

غونډه د محترم الحاج حجت الاسلام سيد محمد نواب حيدري له خوا د افغانستان د مسلمانو خلکو د خير او نيکمرغي په باب په دعائيي سره پاي ته ورسيده .

طي اجتماع وسيعي :

اهالي مجاهد علاقه داري کوه البرز ولايت بلخ حمايت کامل شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز نمودند

هزاران تن از اهالي مسلمان علاقه داري کوه البرز ولايت بلخ طي اجتماع وسيعي حمايت و پشتيباني کامل شانرا از اهداف و برنامه هاي والاي امارت اسلامي افغانستان تحت زعامت عاليقدر امير المؤمنين ابراز نمودند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر مزار شريف گزارش ميدهد دراين اجتماع که نمايندگان ص۴

د ننګرهار ولايت د ارشاد اسلامي او اوقافو رئيس محترم ملا عبدالولي «حقاني» له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي:

د سعودي حکومت فيصله کړيده چي سږ کال يوازي هغو حاجيانو ته اجازه ورکړي چي د اسلامي امارت له لاري ليږل کيږي

په ننګرهار کي ډير مسجدونه او نور مقدسه ځايونه جوړ او ترميم شويدي

ډيروقفي املاك مو چي په پخوانيو دورو کي غصب شوي وو بيرته راوګرځول

محترمو لوستونکو! زموږ خبريال په ننګرهار کي د ارشاد اسلامي او اوقافو له رئيس محترم مولوي عبدالولي حقاني سره مرکه کړيده چي په ګډه يې سره لولو.

پوښتنه : تر هر څه لومړي د شريعت اوونيزي لوستونکو ته ځان ص۴

د پښتو ادب د پنځم ستوري لوي استاد ارواښاد پوهاند صديق الله «رشتين» فاتحه په کابل کي واخستل شوه

د پښتو ادب د پنځم ستوري او د ډيرو تصنيفاتو او تحقيقاتو خاوند لوي استاد پوهاند صديق الله رښتين فاتحه د کابل پوهنتون لخوا د کابل شهرنو د حاجي يعقوب په جامع مسجد کي واخستل شوه .

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ : د فاتحي په دي مراسمو کي چي ۴ مخ

محمد يعقوب "شرافت" مسؤول آژانس خبري افغان:

پيوستن محمد اکبري و اعضاي برجسته حزب وحدت با امارت اسلامي افغانستان به ايران ضربه زده است

محمد يعقوب شرافت مسؤول آژانس خبري افغاني، پيوستن محترم محمد اکبري، محترم نسيم مهدي و اعضاي ارشد حزب وحدت را با امارت اسلامي افغانستان ضربه بزرگي بر ايران خوانده گفت : که ايران پس از اين تحول، تمايل به بهبودي ص۴

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مخالفين دانسان وژونکو ماينونو په ښخولو سره د قهريدلي ملت له غصي نه ځان نشواي خلاصولي

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفينو د خپلو بهرنيو باداراتو په لمسون يو ځلي بيا د هيواد د شمالي سيمو د مسلمانو خلکو د ارام ژوند دګډوډولو هلي ځلي پيل کړي .

هغوي د خپلو دغو ناکامو هلو ځلو علت دا ښيي چي ګواکي د اسلامي امارت ځواکونو د سمي د خلکو په عامه وژنه لاس پوري کړي او د هغوي انساني حقوق يي تر پښو لاندي کړي .

خو هغه مشهور متل چه «دروغګوي حافظه نلري» دلته په مخالفينو باندي ښه صادق دي، ځکه د هغوي دغه تبليغات پداسي حال کي صورت نيسي چه د هغوي مشهور قوماندانان هره ورځ يو په بل پسي د اسلامي امارت له ځواکونو سره يو ځاي کيږي او د خپل ځان د تسليمي يوالځني سبب د اسلامي امارت د ځواکونو ښه اسلامي رويه او په مفتوحه سيمو کي د پوره داډ من امنيت تأمين ښئ .

د مخالفينو وروستني اخلال ګري وي د سمي د مسلمانو خلکو د لا قهر او پاريدني سبب ګرځيدلي او په هر ځاي کي بي د هغوي په مقابل کي د اسلامي امارت د ځوا کونو دوهم مخ

چهار صد عدد ماين ضد پرسونل و سي حلقه ماين ضد وسايط ساخت ايران از ولسوالي بنکي ولايت تخار بدست آمد

اين ماين ها در زماني کشف و بدست ميآيد که مبارزه عليه ماين در سطح بين المللي آن جريان دارد

ما يك بار ديگر از مسؤولين ايراني ميخواهيم که با در نظر داشت حسن همجواري و اخلاق نيك از چنين دست اندازي در افغانستان دست بردارد

چار صد عدد ماين ضد پرسونل و سی حلقه ماين ضد وسايط ساخت ايران اخيراً از مربوطات ولسوالي بنکي ولايت تخار توسط مجاهدين اردوي اسلامي گرفته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد : ماين هاي متذکره و تجهيزات مربوط بآنها وقتي ص۴

ډاکټر ثمر مبارك :

پاکستان شاهين توغندی جوړ کړ

دا توغندي ۷۵۰ کيلو متره واټن ويشتلي شي

سهار : د پاکستان مشهور اټومي ساينسپوه ډاکټر ثمر مبارك ويلي دي چي پاکستان د شاهين توغندي د جوړولو کار بشپړ کړ او کله هم دا توغندي ازمايل کيداي شي. د توغندي تست تکميل ۴ مخ

نن به د هند او نوري نړۍ مسلمانان د متعصبو هندوانو په لاس د بابري مسجد د شهادت وحشيانه عمل د اوږدو لاريونو په ترڅ کي وغندل شي

په توره نړي او هندوستان کي اوسيدونکي مسلمانان به د دسمبر په شپږمه د متعصبو هندوانو په لاولو لاسو د بابري د تاريخي جومات شپږم کال په پوره کيدو سره احتجاجي لاريونو نه وکړي. ۴ مخ

شریعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
دبوي ګڼې بيه : په هيواد کې (۱۰۰۰) افغانی پهپاکستانکی(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) کابل-افغانستانتيلفون: ۲۰۰۷۵
په پېښور کې :دطالبانونمايندګيتيلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

پوره ملاتړ کړي . ماتي خوړلیو مخالفینو په لا چارې سره د ځان د ساتني پغرض د خپلو اسلاقو پهشاني د خښن شويو ماينونو کرې تر ځان راتاو ول پيل کړي. چه دا په حقيقت کې د هغوي د نهايي شکست علامه او په هغه باندې ښکاره اعتراف دي .

د مخالفينو دغه وارخطا اقدام پداسي مهال کې تر سره کيږي چه د اوتاوا د تړون له مخې کوم چې تير کال تر سره شو او د اسلامي امارت په شمول د ۱۳۳ هيوادونو له خوا د ماينونو په توليد، تجارت، ذخيره کول او استعمالولو باندې بشپړ بنديز لګيدلي. خو مخالفين بيا هم د ټولو اسلامي او بين المللي اصولو پخلاف د خپل مسلمان ملت دلاتباهي لپاره له هغو ماينونو څخه کار اخلي کوم چې د دوي د بهرنيو انډيوالانو لخوا ورته راليږل کيږي، چه ښکاره مثال يې د تخار ولايت د بنګي په دره کې هغه ٤۰۰ پرسونل ضد او ۳۰ حلقي د وسايطو ضد ايراني ماينونه دي چه د اسلامي اردو د فاتحو پوځيانو لخوا په غنيمت نيول شوي دي. يرغلګر روسان هم کله چه د افغانستان د مجاهد ملت له تسخيرولو نه نا اميد شول تر ځان يې د ماينونو کړې راتاو کړې خو دير ځله به د مجاهدينو د کفر پر ځونکو ګذارونو له برکته په خپلو تلکوکي بند شول او په خپله جزا به ورسيدل.

د اسلامي امارت مخالفين په حقيقت کې د ملت لخوا هغه منفوري او تجريد شوي څيري دي چه غواړي خپل ځان د شاه شجاع او کارمل شاه په څير د پرديو د ټوپك د نليو په زور په ملت تحميل کړي .

د ايران ، ازبکستان، او تاجکستان ناچيزو مرستو هغوي دومره له سده ايستلي چه د افغان مجاهد ملت له غيرتي فطرت سره بالکل نابلده شوي . هغوي دا هير کړي چه مسلمان افغانان هغه غيور قوم دي چه په خپل مقدس جهاد سره يې هغه ګوډاګيان؛خلقيان او پرچميان په ګونډو کړي چه تر شايي ټوله کمونستي امپراطوري ولاړه وه .

افغان مجاهد ملت ته د تيرو شلو کالو د حوادثو په هنداره کې دا ښه واضحه شوي چه د دوست او دښمن تفکيك وکړي او همدا سبب دي چه د اسلامي امارت حقانيت يې د يوه سالم عقل له مخې تسليم کړي او د هغه تر څنګ دريدلي نن که مخالفين هم د خپل ځان لپاره د نجات په لټکې وي يواځني وسله يې د ملت لاره تعقيبول دي نه د مظلوم ملت لپاره د بې ځايه انسان وژونکو ماينونو خرل دي او بس .

د عشق څانګې

قاضي محمد حسن «حقيار»

کـه تا مـونږ، کې شـيندلي د نفـرت وزري دي
مـونږ هم زړه کې کـرلي د الفت وزري دي
دا هم مـينه وه ګـوره چي د قـتل فلسـفه شـوه
هـابيل چي وژني داد مـحـبت وزري دي
دامـه واي چي د ژوند کاروان مي ورك شو په بيديا کي
لا تاندي مي رقـيبـه د غـيـرت وزري دي
نسـيمـه! وريښـمين لاس دي تير د هيلو په وربل کړه
بيـا سـوي مـغـرور حـسن د جـرئت وزري دي
د خيـال ګـودر دي شين د مسـافـر ارمان کـړ خـاله
کـه څـومـره غـوړيدلي د غـربت وزري دي
ليمـو کي دي غـوړيږي د عـشق څـانګي تبسـمه
رحـمت کي خـپـري شـوي د رحـمت وزري دي
خـالونه سـره او شنه ګـلابي رنګ د اننګو
آينـه چي مـاتوي دا د وحـدت وزري دي
له ډيري ښکلا خپله اوس احـساس د بد رنګۍ کـړي
جنون سـره يو ځـاي د مـعـرفت وزري دي
پروين ته دالوت د هوس خيـال پريږده «حـقـيـاره»
د زړه د شـاهـين مـاتي د همت وزري دي

وزير اکبر خان کابل ۱۳۷۷/۶/۲

فلم

نږدې څلور مياشتې د مخه پاکستاني مطبوعاتو داسي خبرونه خپاره کړل چې ايران او پاکستان په ګډه د يوه هنري فلم په جوړولو موافقه کړې چې په نږدې ورځو کې به ددغه فلم په جوړولو پيل وشي، مطبوعاتو ددغه هنري فلم نوم «معجزه» ښودلی، خو دايې نه ؤ ويلي چې د فلم کيسه يا سناريو ليکل شوي ؟ چا کښلي ، ليکوالي يې ايراني دي که پاکستاني او که کيسه هم په ګډه ليکل شوي يا له کوم بل متن او ژبې ژباړل شوي ده.؟ خو په زړه پوري خبره د فلم د نوم وه - معجزه.خداې حاضر دي زه خپله ددغه خبر په لوستو د ايران او پاکستان دغې ګډې معجزې ته اندېښمن څکه شوم چې په تري کې د ګاونډيو هيوادونو دغسي معجزې که ماليدلې نه وي نو لوستي مې ضرور وي او له عواقبو يې يو څه خبر وم زه لا خپله د ايران او پاکستان جلا جلا معجزو ته هك حيران وم خو چې اوس د يوې ګډې معجزې لپاره يو بل ته لاس ورکوي نو بيا خو د چا خبره راشه که بې ګوري!

زه دا نشم ويلې چې د معجزې نوم هغه هم يوه فلم ته له عقيدوي اړخه څه وړ دي خو که پاکستان او ايران يوه ګډه معجزه را منځ ته کوي دا که معجزه نه وي نو ښايي تري کمه هم ونه ګڼل شي، خميني خو هسې هم د ايران عراق په جګړه کې ايراني ځلموته د جنت کونجي ورکوله او پر ماينونو او ګوليو به يې ور مارش کول. که څه هم د ايران او پاکستان دغه معجزه هنري ده خو هنري معجزه لا خطرناکه ده څکه کوم کار چې په هنر تر سر شي د هغي کمال او اغيز نور هم زيات وي. وروسته ددغې معجزې په اړه نور خبرونه مانه دي لوستي چې نن سبا به دغه ګډه هنري معجزه کومو پوړيو ته ختلي وي.

له درنو علماوو د ګستاخي بخښنه غواړم ما داسي اوريدلي ؤ چې معجزه د پيغمبرانو وي او کرامت د اولياوو، پداسي حال کې چې جنرال جهانګير کرامت له حکومت سره په يوه وړوکي ناندري استعفي ورکړه ، نپوهيږم چې معجزې به هم څه اغيز څرګند کړي وي کـه څنګه؟ په ايران کې د منځ لارو وروستي تروروونه او پر امريکايي سوداګر ودبريد په اړه د حکومت دغه دريځ چي دا کار بې د ايران له پاره يو ملي سر ټيټي وباله څه معجزه ګڼل کيداي شي که نه - ايران ته د هغو امريکايي ډيپلوماتانو بلنه چې ٤٤٤ ورځې د خميني کرښي پيرو محصلينو برغمل نيسولي وو سرې د چا معجزه وبولي ؟ د تاجکستان او ازبکستان معجزې خو لا پر ځاي پريږده .

خبره د فلم وه - په تيرو ورځو کې ايران دا هم اعلان کړه چې په پوهنتونونو کې به يې د امريکايي فلمونو خپرول بيا پيل شي. د امريکي پخواني جمهور رئيس رونالد ريګن فلمي هيرو ؤ، کله چې يې د دوهم ځل لپاره د جمهوري رياست دوره پاي ته ورسيده او په کور کيناست نو يوې فلمي کمپني وړانديز ورته وکړ چې ددغي کمپني له خوا تر لاسه لاندې فلم کې د هيرو رول تر سره کړي. ريګن دا خبره منلي وه خو يو کال کيږي چې هغه ته داسي ناروغي ورپيښه شوي چې د ژوند خواږه او ترخه يې ټول هير کړي، تر دې چې دايې هم له ياده وتلي چې دې يو وخت فلمي هيرو يا داسي جمهور رئيس هم ؤ چې له شوروي اتحاد نه يې د ويتنام غچ واخيست خو اوس هغه دا هر څه هير کړي، دي يواځې خپله ميرمن پيژني نور له هر څه بيخبره دي.

د ښاغلي ريګن د فلمي او هنري معجزو دا برکت دي چې نن سبا د ايران د اسلامي جمهوريت په پوهنتونونو کې امريکايي فلمونه چليږي او د کلتوري تبادلې په نوم يو ښه آغاز ګڼلاي شي.

په روان کال کې چې د المپيك په نړيوالو مسابقو کې ايران د فټبال په لوبه کې امريکا ته ماتې ورکړه نو يوه امريکايي کشونکې په ټوکو کې ويل: موږ خپله ايران ته ځان مغلوب کړ، چې ايران زموږ دوستي ته يو ځل بيا زړه ونيسي، ده زياته کړه : ؤ مو نه ليدل چې پدغه خوشالۍ کې د ايران نر او ښځې ټول سړکو ته راووتل او په ګډه ونڅيدل ، پدې توګه امريکې پدې کار د ايران هغه روحاني او مذهبي دنيا ولړزوله چې دوي يې ادعا کرله.

په ريښتيا هم د فټبال په لوبو کې د ايران کاميابي داسي ولمانځل شوه چې زاړه ، ځوانانو او تور سرو ټولو په واټونو او پارکونو کې پر نڅا او ډانسونو شپې رڼې کړي څکه خو هغه امريکايي کشونکې ويلي ؤ : څنګه يې د ايران نر او ښځې وګډول... ايران به دا کار د امريکي معجزه ګڼي کـه نه خو کـه ايران داسي معجزې تر سره کولې شي د امريکا دغه لوبې به هم څوك له معجزې کمې ونه بولي.

فلمونه او ډرامې که هر څوك جوړوي کمال يې له ليکوال زيات په لوبغاړو او له هغې هم زيات په لوبغاړو «پرودیوسر» کي دي ددغه کمال له پاره بيا له ټولو زيات ضرورت د لوبغالي دي، همدا لوبغالي دي چې د لوبغاړو تر پښو لاندې دل شي.

پتي پاڼې

شهرت ننګيال

خلق + پرچم = شر و فساد

احمد ضیأ «شریفی» — قسمت اول

بعد از آنکه کودتاي کمونيستي در سال ۱۳۵۷ در کابل به وقوع پيوست و حکومت دست نشانده روسها (خلقي ها) به رهبري نورمحمد تره کي در افغانستان حاکم گرديد. از همان روز اول به منظور رسيدن به اهداف شوم خود از هيچ گونه حيله و نيرنګ دريغ نکردند و با توسل به زور و فشار همواره بر مردم متدين اين مرز و بوم تاخت و تاز نمودند و پيوسته کساني را که بخاطر اداي فرايض ديني خود به مساجد ميرفتند و يا در محضر عام عبادت ميکردند تمسخر نموده و مورد شکنجه و تعدي قرار ميدادند که بر همه هويداست .

جوانان نهضت اسلامي که قبل از کودتاي کمونيستي نيز بر ضد کفر و کمونيزم فعاليت داشتند، آرام نه نشسته در مقابل اين اهريمنان قد علم کردند و علماي جيد کشور به اساس حکم الهي اعلام جهاد نمودند که همانا مردم مسلمان ما صف خويش را از اين سفاکان جنايت پيشه جدا نموده و به اين فرمان الهي لبيك گفتند .

اين جنايتکاران ملي که با شعار حمايت از طبقه کارگر مردم عوام را مدت زمان کوتاهي فريفته خود ساخته بودند به جلب و جذب گروه خود پرداختند، چون قشر بيسواد و کم فهم جامعه بي خبر از اهداف شوم اين جنايتکاران به طرف آن تمايل نشان دادند هکذا اين گروه فساد پيشه با استفاده از حساسيت هاي جامعه، مسايل لساني، قومي ، نژادي و سمتي را روي کار نمودند و يك تعداد مردم به اساس مسايل فوق به اين گروه جذب شدند و به اين ترتيب اين گروهك به شيطنتها و فساد پيشگي خود آغاز نمود، و بخاطر در خفا نگهداشتن اين شرارت پيشگي خويش به مجاهدين راه اسلام که عليه آنان قد علم کرده بودند عناوين چون «اخوان شياطين، اشرار و...» اطلاق نموده و اذهان عوام را اغفال ميکردند .

زمانيکه خلقي ها اين گروه شبه روشنفکران مارکسيستي زمام امور را در دست گرفتند بدون توجه به شرايط عيني جامعه بر اساس دستور استعمار و تأمين منافع استعمارګران روسي بدون در نظرداشت عنعنات و رسم رواجهاي مردم گويا دست به اجراي يك سلسله اصلاحات اقتصادي، سياسي و فرهنگي زدند که اين همه ضرباتي بود بر مسايل ديني و عنعنوي جامعه ما، که منجر به عکس العمل مسلمانان گرديد که در نتيجه قيام هاي مسلحانه در کنج و کنار کشور آغاز شد ، در مدت که دو سوم حصه خاک کشور از کنترول کمونيست ها خارج و تحت تسلط مجاهدين سر بکف اسلام در آمد .

در بحبوحه همين ظلم و تعدي اين گروه خود فروخته شده بود که هزاران تن از فرزندان رشيد اسلام و افغانستان اعم از جوانان ، پير مردان ، زنان و اطفال قرباني «بهشت تخيلي سوسياليزم» گرديدند .

بعد از آنکه حفيظ الله امين شاگرد وفادار!! تره کي استاد خود را به قتل رساند و زمام قدرت را بدست گرفت وضع بدين منوال ادامه داشت و حتي بيشتر از آن وخيم تر گرديد در چنين شرايط کسي حق اظهار نظر در مورد مسايل سياسي را نداشت و اگر اظهار نظر مينمود و نظريات شان مخالف کمونيست ها مي بود شخص مذبور راهي زندان گرديده و بدون تحقيق از آنجا به پليگون محل شهادت هزاران تن مسلمانان منتقل شده و سر به نيست مي گرديد.

آري در دوران حکومت صد روزه، امين مزدور نيز مردم بيچاره و مظلوم ما زندگي آرام و خوشي نداشتند . هزاران هزار فرزندان مؤمن و با ديانت افغان بجرم دفاع از عقيده و انديشه شان روانه سياه چال هاي زندان شدند و به صد ها هزار هموطن مظلوم و بيدفاع ما در خون تپيدند و جام شهادت را سر کشيدند و صد ها هزار ديگر وطن را ترك گفته رو به ديار هجرت نمودند. و از اين نوع جنايات و شرارت پيشگي که در اعمال نامه ننگين شان ثبت است زياد انجام دادند تا بالاخره فراخواني ارتش سرخ روسيه شوروي وقت به حيث سياه ترين لکه آنها بر دامن ناپاك شان باقيماند.

آري تجاوز نيروي ارتش سرخ همزمان با به قدرت رسيدن بخش ديگر اين گروه خود فروخته شده (پرچمي ها) به رهبري ببرك کارمل بود. کارمل بعد از آنکه زمام امور را در دست گرفت نمي خواست که تجربه خلقي ها را تکرار کند ولي در اصل طريق ديگر را جهت رسيدن به اهداف شومش پيمود و از رقباي خلقي کمونيست خود بيشتر مرتکب فساد در همه عرصه ها گرديد.

اگر اندکي به خدمات!!! پرچمي ها در دوران زمامداري شان تأمل نمائيم مي بينيم که عملکرد هاي آنها به عنوان جنايات بزرگ در تاريخ ثبت گرديده است از جمله تغيير دادن سيستم تعليم و تربيه به سبك کمونيستي و دور ساختن مضامين ديني از مکاتب، فرستادن اطفال نوجوانان اين کشور به اتحاد شوروي وقت گويا جهت تحصيل که البته اطفال و نوجوانان مذکور در ختم به اصطلاح تعليم و تحصيل نه افغان بودند و نه مسلمان ؛ زيرا در محيطي تربيه ميشدند که ديگر حتي نامي از اسلام هم در آنجا گرفته نميشد.

ادامه دارد

فن نگارش و اصول درست نويسى

(۱۳)

استاد گل احمد «يما»

جمله هاي ساده، مركب و مختلط

آنچه تا كنون در بخش نحو مورد بحث قرار گرفته است، جمله هاي ساده و مركب بوده است كه جمله هاي مركب خود به متوازن و تابعي تقسيم شده است. حال اگر جمله هاي مركب متوازن و تابع با در نظرداشت فقره هاي آن در پيوند با هم مورد مطالعه قرار بگيرد، جمله هاي مختلط را مي سازد.

جمله هاي مختلط، عبارت از جمله هايي است كه در آن چندين فقره، متوازن و فقره هاي تابع و عمده به كار رفته باشد.

ما كه به ادبيات علاقه داريم، اگر به جايي برويم كه در آنجا به اين رشته، معرفت بشري ارزش قايل ميشوند، خواه آن محل را قبلاً ديده باشيم خواه به تازه گي در آنجا قدم گذاشته باشيم، برايما يك نوع احساس همدلي در برابر آن محل پيدا مي شود؛ بناءً علاقه مي گيريم كه به آنجا باز هم برويم و از بودن در آنجا احساس نشاط و خوشي نمائيم. طوري كه مي بينيم، جمله، بالا يك جمله، مختلط است كه در آن فقره هايي با ارتباط توازن و نيز فقره هايي با ارتباط تابعيت و عمده گي وجود دارد. ما از بررسي آن به طور كامل درينجا صرفنظر مي كنيم. فقط به طور نمونه متذكر ميشويم كه مثلاً «ما كه به ادبيات علاقه داريم» يك فقره، تابع است براي فقره، «ما به جايي ميرويم» يعني فقره، اصلي درين جمله، مختلف اينست كه «ما به جاي دوستداران ادب ميرويم» و فقره «به ادبيات علاقه داريم» در حقيقت يك فقره، تابع يا پيرو براي جزء نهاد فقره، اصلي يعني «ما» مي باشد كه اگر آن فقره، تابع يا پيرو را به صورت عبارت در بياوريم چنين مي نويسيم: «ما علاقمندان ادبيات به جاي دوستداران ادب مي رويم».

همچنان درين جمله مختلط: فقره، «خواه آن محل را قبلاً ديده باشيم» با فقره، «خواه به تازه گي در آنجا قدم گذاشته باشيم» توازن دارد.

و نيز فقره، شرطي «اگر به جايي برويم ...» تابع يا پيرو است براي فقره، جواب شرط كه فقره، پايه يا فقره، عمده است و آن فقره، ذيل است: «برايما يك نوع احساس همدلي در برابر آن محل پيدا مي شود ..» و نيز «بناءً علاقه مي گيريم» يك فقره، داراي روابط توازن است با آنچه قبل از آن در جمله، مختلط آمده است.

به همينسان ميان فقره، «علاقه ميگيريم كه به آنجا باز هم برويم» با فقره، «از بودن در آنجا احساس نشاط و خوشي مينمائيم» رابطه لفظي توازن وجود دارد كه همانا «واو عطف» است يعني اين دو فقره، اخير الذكر فقره هاي متعاطفه گفته ميشود. يعني يكي بر ديگري عطف شده است.

به هر حال، جمله هاي مختلط از چندين فقره، تابع و عمده و متوازن تشكيل گرديده است كه يكي با ديگري در آميخته است. در صورتيكه اين نوع جملات بيشتر از «كلمات» تشكيل گرديده باشد جمله هاي مختلط عادي و اگر بيشتر از «عبارتها» ساخته شده باشد جمله، مختلط متكشف خوانده ميشود. به هر حال، جمله هاي مختلط معمولاً در آثار فلسفي و علمي كه افكار مغلق و پيچيده در آن بيان ميگردد، جاي استعمال دارد. مبتديان ميتوانند با مراجعه به آثار فلسفي و علمي، مخصوصاً آثار تيوريك به چنين جمله هايي برخورد نمايند.

نويسنده گان مبتدي هرگاه به جمله هاي مختلط مواجه شدند فوراً در آنها، فقره، مركزي را كه فكر اصلي و عمده در آن بيان گرديده است بكوشند پيدا كنند، متعاقب آن، تلاش ورزند كه فقره، تابع آن فقره، مركزي را دريابند.

هنگامي كه آن فقره، حاوي فكر مركزي را پيدا كردند، فقره هايي كه با آن در پيوند است و به صورت فقره هاي عمده و تابع يا پايه و پيرو بيان گرديده است و يا به شكل فقره هايي داراي ارتباط توازن به كار رفته است، تلاش نمايند تا پيدا شود. بايد گفت كه جمله هاي مختلط احتياج به تمرين ندارد؛ هرگاه افكار آدمي بغرنجتر گرديد، جمله هاي مختلط خود بخود در نوشته ها ظاهر ميگردد. اما اگر امكان آن موجود باشد كه افكار به جمله هاي مركب بيان گردد بهتر است. همان قسميكه اگر امكان وجود داشته باشد، به كار بردن جمله هاي ساده، باز هم ارجحيت دارد. ولي بايد متوجه بود كه افكار بكر و جديد در عرصه هاي مسايل تيوريك و فلسفي و انديشه هاي علمي و اخلاقي و ديني فقهي گاهي كمتر ممكن است تا با جمله هاي ساده يا مركب بيان گردد.

به هر حال، نويسنده گان كه بنا بر داشتن افكار مبهم پيچيده و بكر به جمله هاي مختلط روي مي آورند در حقيقت ديگر راهي ندارند كه مسايل را بيان نمايند ولي اگر افكار ساده و عادي موجود است بهتر است تا با جمله هاي مركب و ساده بيان گردد.

به هر حال، در نحو همين سه قسم جمله وجود دارد: **جمله هاي ساده، جمله هاي مركب، جمله هاي مختلط**

اين جمله ها در صورتي كه فقط با كلمه ها بيان گردد، عادي است و در صورتي كه با عبارات ارائه گردد، متكشف مي شود، پس ما سه نوع جمله، متكشف داريم:

- جمله، متكشف ساده، جمله، متكشف مركب، جمله، متكشف مختلط.

البته از قبل ميدانيم كه: جمله هاي مركب، متشكل از فقره هاست و فقره ها اگر از «كلمه ها» ساخته شده بود، فقره هاي عادي است، و اگر از «عبارتها» تشكيل شده بود، فقره هاي متكشف خوانده مي شود. فهم نحو از فهميدن جمله (جمله، ساده، جمله، مركب، جمله، مختلط) فقره (فقره، عمده و فقره، تابع، فقره، متوازن) و عبارت (عبارت فعلي، عبارت مفعولي، عبارت متمم فعلي، عبارت قيدي، عبارت رسمي) حاصل مي شود. در صورتي كه جمله، فقره و عبارت فهميده شد، اساسات نحو آموخته مي شود، و با تمرين و ممارست ميتوان دانش خود را در اين زمينه تعمق نمود. در پايان بحث نحو يك نكته قابل تذكر است كه در فقره هايي كه با هم ارتباط معنوي دارند. فقره ها به صورت جمله هاي ساده و كوتاه بيان مي گردد. اما فرق اين فقره ها با جمله ها اينست كه در صورت وقت درين فقره ها ميتوان ارتباط منطقي و معنوي آنها را با همديگر دريافت نمود، در حاليكه جمله هاي ساده و مستقل يك معناي كامل را ميرسانند. مثلاً: شاگردان با كار و تلاش خود، موفقيت را نصيب مي شوند، كتابهاي خواندني در كتابخانه، عامه موجود است. هر روز هوا سرد تر شده ميرود. اينها همه هر كدام جمله هاي مستقل اند، اما اگر بنويسيم كه: او محصل است؛ در فاكولته، ادبيات درس ميخواند؛ در درسهايش ورزيده است، استادانش از او رضايت دارند. اگر دقيق بنگريم اينها هر كدام فقره هايي است كه به صورت جمله هاي كوتاه نوشته شده اند. مبتديان بايد در باره، جمله هاي ساده، مركب و مختلط و فقره هايي كه به صورت جمله هاي ساده نوشته مي شود، دقت نموده فرق هر كدام را فراگيرند و ياد بگيرند.

ادامه دارد

ذره سوي او اندیښنې

ډاکټر محمد نذير «احمدزي»

نژدي يوه نيمه لسيزه مخکې هغه وخت چې د ښکېلاکګر شوروي د وحشي پوځ په وړاندې، افغان مسلمان ملت جهاد خپل د مذهب او ايمان او ټول پياوړتيا وهل او د افغان مجاهدينو او ځينګ د [illegible] په جهاد هيڅ مسلمانانو هم د افغان په مقر اسلام د جهاد کې ونډه اخيستل غوښتل، هغه د دي سپيڅلي فريضي د ترسره رسولو لپاره وخت تاوخته د هجرت جايونو او د جهاد ډګر ته رسېدل او په ځان [illegible] او زړه به يې تر هيڅ وخت پورې خپل د مسؤوليت سره رساوه، په همدې ورځو کې يو ځل هم د اسلامي نړۍ ستر عالم استاد مصطفى مشهور پيښور ته راغلي وو او ځان په ځای يې له مجاهدينو، مهاجرينو او د جهادي تنظيمونو له مشرانو سره ليدنه کتنه وکړل او خپله خواخوږي يې د افغانستان شهيد پال ولس سره څرګند وله، هغه دغې جنګ چې د جبل هيواد د مسلمانانو [illegible] مرستې يې جهادي تنظيمونو ته ګانه [illegible] راوړي دي او په دي توګه يې خپله او د خپل هيواد د ولس خواخوږي او [illegible] افغاني مجاهدينو سره څرګندوله په خاصه ځلسو او محفلونو کې يې د [illegible] پاروونکو وينا وو په ترځ کې خپلي انديښنې هم په پوره حکمت او متانت په ډاګه کولي دا يې ښودله چې د افغان مجاهدو ولس جهاد پرمخ ورته [illegible] او د مسلمانانو د نړيوالې اوښکې وينو له مينې وراولي دي. هغه به مجاهدينو او مهاجرينو ته دا ويل چې که هندي [illegible] لاره پاتې شي تر خداي [illegible] سترې سوپي، نږ ستاري ورپوړنه او په روري ورته به نصيب کړي او کله خداي مکړه د مجاهدينو پام په بله خوا شي نو بيا دا اوسنۍ عزت او نصرت هم به ورته [illegible] ستري تباهي به مخ ځني [illegible]

هغه رسول د راتلونکي د څرګنداني په هکله ژير انديښمن و، او دغې ليارو چې خپله دا انديښنه په حکيمانه او ښه توګه د مجاهدينو شمرمو له ذهنه کړي تر په يوه غونډه کې يې چې په زرګونو مجاهدين او مهاجرين راغونډ شوي وو ډېره جذابه وينا پيل کړه او وروسته له حمد او درود څخه يې په داسې حال کې چې خبري يې د وخت د يوه جهادي مشر لخوا ژباړل کېدې داسې وويل: «اې زما وروڼو: د اسلام په پيل کې کله چې اسلامي لښکر روسي پوځ له ماتې ورکړه او د قسطنطنيې شاوخوا پوري سيمې يې فتحه کړې يوه ورځ له يوې جګړې ايزې سوبې څخه وروسته د اسلامي لښکر غازيان چې ډېر صحابه کرام «رضي الله تعالى» هم په کې وو سره راټول شول او د خوښۍ او خوشالۍ د څرګندولو په عنوان يې يوه محفله جوړه کړه، مجاهدين سره راټول وو او هر يوه د خيرو په ترځ کې د جنګ فتوحاتو له کيسې خبرې کولې، د دوی له دغې څخه څو سرلوري د اسلام ستر پيغمبر حضرت رسول اکرم «ص» نازولې صحابي حضرت ابو دردا «رض» په داسې حال کې چې د توري څوکه يې په ځمکه ښخه کړې پر قبضه يې سر ايښي او پر خوا تېکه لګولې و. ځانګړي خاموشي او ښکې يې توبولي او په زړا سر [illegible] د مجاهدينو له ډلې څخه د يو چا پري پام شو کوم چې حضرت ابو دردا «رض» ژاړي، نو ورغلي يې پري وکړ چې يا ابو دردا! ستا په د مسلمانانو له سوبو څخه خپه يې

جي [illegible] د خوشالۍ ورځ ده الله «ج» [illegible] وياړونه را په برخه کړي [illegible] حضرت ابو دردا «رض» [illegible] په داسې حال کې چې ستر کې يې له [illegible] مبارک مخ يې د اوښکو څاڅکي را روان وو سر د توري له مړوني را پورته کړي او ورته وايي: اي زما وروره، خداي دي نکړي چې زه به د مجاهدينو له فتوحاتو خپه يم او له دي کبله به ژاړم، زه دي فکر په ژړا کړي يم چې دغه خلکو څو د خداي «ج» له بنده ګۍ څخه سر غړونه کړي وه نو خداي «ج» معذب او ذليل کړل او موږ يې پري بر لاسي کړو او نن ورځ دوی سوبه ته په نښت کې پاتې دي، خانه دا سودا او د هغې ورځي حالت را تر ستر کو شو چې که خداي مکړه مسلمانان کړه وخت داسې سرکښي او له اسلام څخه پردمنبوب ونښي چې د خداي «ج» د ناوړضايتي سبب وګرځي له دوي څخه خپله مرسته او رحمت واخلي او دوی د کفارو په لاسونو خوار او عربان شي. نو ما ځکه ژړل چې خداي مکړه يوه داسې ورځ راشي» استاد مصطفى مشهور په زړه ژبانه کړه: مسلمانانو او مجاهدو وروڼو وګورئ چې ژموږ د اسلام مشرانو له اسلام سره څومره ژوره مينه درلوده او زموږ په هکله څومره انديښمن وو، او نن ورځ موږ ګورو چې هغه د ابو دردا «رض» انديښنه ريښتيا او زياته اسلامي امت له اسلام څخه د لري کيدو په سبب د خداي «ج» له رحمت او مرستې څخه محروم، او د کفارو په لاسونو ذليل شوي

دي. دا چې تاسې بو ځل بيا په دي عصر کې د اسلام ازادي بښونکی بيرغ د جهاد او شهادت په قوت پورته کړی دا د ټولو مسلمانانو وياړ ده او بايد دا وياړ وساتئ او هيڅکله پريږدئ چې له اسلام څخه د واټن تيولو له کبله خداي «ج» پاك پيرته دا وياړونه در څخه واخلي.

د اوسنيو مسلمانانو په هکله د حضرت ابو دردا «رض» انديښنه پوره وخستله او زموږ په هکله هم د استاد مصطفى مشهور انديښنه، نو ښايي چې اوس مو عقلونه سرته راغلي وي!!

نيمه ورځ مې د سهار ورځ شاني [illegible] تروږمي صافر تر سرليك لاندې د محترم وروږ شفيقي صاحب ژباړل شري داستان لوستل. هغه هم پوروتي پيښې ته ورته يوه کيسه راغلي ده هغه وخت چې د غرناطي مسلمانان څنګه تا ځنګه له جهادي روحيي او د خداي «ج» د رضا له لارې څخه پردي شوي او د سيمې د عيسوي حاکمانو تر ځورګند او تهديد لاندې وو په دغه وخت کې هم پر شمير په اسلام مين، مجاهد مسلمانان د غرناطې د مسلمانانو د راتلونکي په هکله ډېر انديښمن وو او هره ګړۍ يې دا څخه کړله چې هغوی له هغه درانده خوب څخه چې د تباهي سبب يې ګرځيداي شو راويښ کړي. د هغوي يوه سپين ږيري مجاهد عالم چې هلته يې زهره ټوټي ده د سيمې د مسلمانانو په مرسته ځان د خلکو ډېري ستري خولوي ته ورسوي او د خبرو په ترځ کې هغوی دا ويکه سخانې کړځوي: «اي د غرناطې خلکو تاسې چې کومه لار غوره کړې دا د هغه دوزخ لار ده چې زيل پاتې شپاهي زيږي ته ځانه سره لري، که تاسې له دې درانه خوب او له سستۍ او غفلت نه پاك حالت څخه را بهر نه شي نو خامخا به مو د ذلت مرګ او يا د مرېتوب ژوند په برخه شي زه ستاسو په [illegible]

معرفي رسالهء "نظري به ميراثهاي فرهنگي افغانستان"
و اشاره هايي بر مسايل فرهنگي كشور ما

(۲)

يوميالي ليلما "يما"

بر اساس آنچه دوپري مينويسد بايد گفت كار مثمر ديگري كه مقامات فرهنگي امارت اسلامي افغانستان در اين زمينه كرده است اين است كه مساعي لازم به خرچ داده تا افغانهاي علاقمند و متخصص را كه در خارج كشور به سر ميبرند و همچنان العده خارجي و موسسات بين المللي كه در مورد حفظ ميراثهاي تاريخي علاقمندي دارند در اين زمينه به كمك بطلبد. چنانچه دوپري در رساله، خود [illegible] موسسات بين المللي چون:

۱- يونسكو،
۲- شوراي بين المللي موزيمها (ايكوم)
۳- مركز بين المللي مطالعه [illegible] ملكيتهاي فرهنگي (ايكروم)
۴- [illegible] سيستماتيك كه آنها هر نوع كمك [illegible] افغانستان ميباشد.

قابل تذكر است كه مجتمع بين المللي [illegible] اساس فيصله، مؤرخ ۱۹۹۷/۱۲/۸ كميته جهاني ميراثهاي فرهنگي مربوط يونسكو مكلفيت پيدا كرده اند تا در قسمت حفظ ميراثهاي فرهنگي افغانستان [illegible] امكانات لازم را در اختيار مقامات فرهنگي امارت اسلامي بگذارند.

موسسه ديگري كه ميتواند در اين زمينه با مقامات فرهنگي امارت اسلامي همكاري [illegible] نمايد موسسه [illegible] به انجمن حفظ ميراث فرهنگي افغانستان است كه در سال ۱۹۹٤ در اسلام آباد به ابتكار علاقمنديهاي خانم دوپري با عضويت افغانها و متخصصين بين المللي تشكيل شده است.

خانم دوپري در مورد [illegible] ابتدايي [illegible] آن بود تا تبادل اطلاعات [illegible] با سازمانها، موسسات و اشخاص انفرادي درداخل و خارج كشور را تشويق نمايد و با همكاري اعضاي خويش توانست يك كتلاك عكاسي [illegible] تاريخي، آثار و معماري [illegible] تهيه نمايد.

علاوتاً انجمن حفظ ميراثهاي تاريخي و فرهنگي افغانستان كه [illegible] شخصيتهاي فرهنگي افغانستان [illegible] وزارت پلان در كابل راجستر شده است [illegible] بي است كه ميتواند با مقامات فرهنگي امارت اسلامي افغانستان همكار خوب باشد.

موضوع ديگري كه خانم دوپري در [illegible] خويش از آن ياد آوري مينمايد [illegible] قانون است وي ميگويد كه تشويش منابع بين المللي در مورد تاراج ميراثهاي فرهنگي افغانستان فوق العاده زياد است و [illegible] خاص حقوق بشر ملل متحد به صورت [illegible] از تاراج و چپاول ميراثهاي فرهنگي افغانستان [illegible] حيث تخلفات اساسي حقوق بشر ياد آوري [illegible] است. موزيم كابل [illegible] بين المللي موزيمها [illegible] تمام قوانين و مقررات بين المللي [illegible] اين مورد [illegible] قوانين و مقررات [illegible]

ميكند كه ميراثهاي فرهنگي مال بيت المال بوده و افراد و اشخاص، گروهها حق تصرف در آن را به صورت شخصي ندارد و حتي اگر آثار فرهنگي در زمينهاي شخصي هم يافت شود، شخص مذكور مكلفيت دارد تا آن را به بيت المال تسليم نمايد و شخصاً حق تصرف به آن را ندارد.

در سال ۱۹٤۷ در قريه، ميرزكه، ولايت [illegible] كه شامل [illegible] مسكوكات بود به صورت تصادفي كشف گرديد. [illegible] كه در چاه مذكور سه صد هزار از مسكوكات طلايي، يوناني، گريكو - باختري، اندوگريك، اندوپارتي و كوشاني كه تاريخ آن از قرن چهارم پيش از ميلاد تا اوايل قرون ميلادي ميرسد، وجود دارد. كار در اين مورد ظاهراً در همين حد باقيماند و هيچگونه كاوش بيشتر در زمينه صورت نگرفت و به همان شكل سرپوشيده باقيماند.

چاه ميرزكه در سال ۱۹۹۲ به تشويق قاچاقچيان بين المللي مورد دستبرد گروههاي مسلح و مردم منطقه واقع شد و آثار طلايي و نقره ای كه بيشتر ارزش تاريخي و باستاني آن مطرح است [illegible] به قيمت طلا و نقره بالاي قاچاقبران به فروش رسيد. و اين كار الي سال ۱۹۹۷ ادامه داشت تا اينكه تحريك اسلامي طالبان در آن منطقه موفق شدند امنيت را [illegible] كاوش غير قانوني آن متوقف ساخته شد.

سوال اساسي اينجاست در حالي كه كشفيات مذكور در سال ۱۹٤۷ كه برابر با ۱۳۲۶ هـ ش ميشود صورت گرفته است چرا از طرف دولت وقت و دولتهاي بعدي مسكوت گذاشته شد و كار قانوني و منسجم در زمينه صورت نگرفت.

توقع مؤلف ما از مقامات فرهنگي امارت اسلامي اين است كه در اين مورد نخست از ادارات مسؤول باستانشناسي و موزيم ها در داخل كشور طالب معلومات شده موضوع را تحقيق نمايد ثانياً اين مساله را با موسسه يونسكو و ساير موسساتي كه در افغانستان در طول سالها به كاوش پرداخته اند و سازمان حقوق بشر و اسامبله عمومي ملل متحد كه در فبروري ۱۹۹۷ [illegible] خود را در زمينه عدم حفظ ميراثهاي فرهنگي افغانستان نشان داد و با مردم افغانستان اظهار همدردي نموده است، در ميان بگذارد و خواستار يك تحقيق بين المللي در زمينه شود زيرا در اين قسمت به فرهنگ كشور ما خيانت عملي و علني صورت گرفته و روي تاريخ ۲۵- ساله، ما كه اسناد آن در اين چاه مدفون بوده خاك پاشيده شده است.

خانم دوپري علاوه ميكند كه [illegible] تعدادي از سازمانها و ادارات دولتي [illegible] آماده هستند تا در كشف آثار مفقود شده همكاري كنند. [illegible] افغانستان به كنوانسيون ۱۹۷۰ يونسكو در مورد جلوگيري و ممانعت از انتقال و ورود و صدور غير قانوني ملكيتهاي فرهنگي اقدام ننموده است. [illegible] كاري بكند. [illegible] امارت اسلامي افغانستان بايد اين مسئله را بررسي نمايد [illegible] ادارات [illegible] در طول همين مدت ۲۸ سال وجود داشته چرا افغانستان به حيث عضو يونسكو چنين يك كنوانسيون را امضا ننموده است. چون عدم امضاي اين كنوانسيون زمينهاي بزرگ [illegible] را در تاريخ كشور ما به وجود آورده است [illegible] بين المللي و [illegible] مسؤولين اين خيانات بزرگ ملي نخست شناسايي شده بعداً مجازات گردد و [illegible] امارت اسلامي جهت بدست آوردن اين آثار و جلوگيري از [illegible] با مقامات [illegible] در تماس شده و آماده گي خود را جهت امضاي كنوانسيون مذكور اعلام دارد. خانم دوپري باز هم جهت حفظ ميراثهاي باستاني افغانستان پيشنهاد ميكند كه مسؤولين ادارات مربوطه احساس مسؤوليت نموده نخست افراد و اشخاص متخصص در زمينه تربيه نمايند. وركشاپها و سيمينارها و كنفرانسها و نشرات در زمينه تدارك ببينند تا مردم ذهناً علاقمندي به حفظ آثار باستاني پيدا نمايند و افغانهاي مقيم خارج را نيز در اين عرصه تشويق و ترغيب نمايند. در مورد مسايل مربوط به فرهنگ و باستانشناسي معلومات مؤثق را جمع آوري نموده در اختيار مردم و مراكز ذيعلاقه بگذارد و نيز در تربيه كدرها بذل مساعي نموده و براي تبادله متخصصين با كشورهاي خارج تماسها برقرار گردد و در پي آن باشد تا وجوه مالي مورد ضرورت را بدست آورد.

به عقيده ما موجوديت يك شوراي عالي فرهنگ با صلاحيت، قوي و تصميم گيرنده و برنامه ساز در امارت اسلامي توانايي آن را خواهد داشت تا در امور فرهنگي و مسايل مربوط به حفظ ميراثهاي فرهنگي به صورت همه جانبه با مراكز و شخصيتهاي مهم در داخل و خارج كشور در تماس شده و در اين جهت، كار هاي مؤثر تر انجام دهد.

مؤلف در اخير رساله، خويش يك تعداد اولويتهاي كاري را كه شمار آن به پنجاه مورد ميرسد در ساحات مختلف كشور مشخص نموده كه به مواظبت و ترميم جدي سزاوار است كه ذيلاً از آن نامبرده ميشود: موزيم كابل، موزيم [illegible] هده، موزيم اسلامي غزني، موزيم هرات، مجتمع بودايي باميان، تپه سردار غزني، مقبره، سلطان محمود غزنوي، قصر مسعود سوم، منار هاي عصر غزنويها، منار جام غور، مقبره، تيمور شاه در كابل، باغ بابر، شهر كهنه، آرشيف ملي، [illegible] سراي، گلستان سراي، باغ بالا، [illegible] مسجد شاه دو شمشيره، منار چكري، گلدره، چهلستون، قصر دارالامان، تپه تاج بيگ، پغمان، مسجد جامع هرات، پل مالان هرات، مسجد و مزار امام فخر رازي در هرات، مجتمع منار هاي مصلي در هرات، كارزگاه، حوض كرباس، تخت ظفر، حوض چار سوق، آي خانم در ولايت تخار، طلا تپه در جوزجان، سرخ كوتل پلخمري، رباطك پلخمري، تخت رستم در سمنگان، شهر كهنه بلخ، زيارت خواجه ابو نصر پارسا، مدرسه سيد سبحان قلي خان، روضه حضرت علي «رض»، تخته پل در مزار شريف، حوض آقينه، امام خورد [illegible] پل، غوچك در جلال آباد، تپه در غرب جلال آباد، وادي هلمند، كتيبه سنگي اشوكا، چهل زينه قندهار، مقبره احمد شاه بابا و مقبره، ميرويس نيكه.

به هر حال، رساله، «نظري بر ميراثهاي فرهنگي افغانستان» به زبان دري و پشتو با نثر هاي شيوا و رسا برگردانيده شده و در پشاور به چاپ رسيده. اثريست معتبر، اكادميك و علمي از قلم يك باستانشناس خارجي علاقمند ميراثهاي فرهنگي افغانستان كه حقايق بيشماري را در صفحات محدود روشن و بر ملا ساخته است.

اين اثر ميتواند به حيث يك سند معتبر و رهگشا براي ايجاد يك اداره، سالم باستانشناسي، پژوهشهاي تاريخي و فرهنگي مورد استفاده مقامات فرهنگي امارت اسلامي افغانستان قرار گيرد.

د ننگرهار ولایت د ارشاد اسلامي او اوقافو رئیس ...

معرفي کړي ؟

ځواب : نوم مي ملا عبدالولي حقاني د حاجي فولاد ځوي د خوست د ولایت د وردگي د ولسوالي د نریزي د کلي اوسیدونکي د پاکستان په بیلا بیلو مدرسو لکه د دارالعلوم تعلیم القرآن کوهات، دارالعلوم هادیه پیښور، دارالعلوم سعادت مردان او دارالعلوم حقانیه اکوړه خټك کي مي زده کړه کړیده .

د حرکت انقلاب اسلامي غړي وم له شهید منصور صاحب سره مي د جهاد په سنگر کي ډیر وخت تیر کړیدي او د کوهات د حوزي ناظم هم وم .

پوښتنه : په ننگرهار کي څو مسجدونه له حکومت سره رسمي دي او ددي خطیبانو او امامانو د معاش په هکله معلومات راکړئ ؟

ځواب : په ننگهار کي نوي جامع مسجدونه او دوه سوه پنځه دیرش صغیر مسجدونه له ارشاد اسلامي ریاست سره رسمي دي د جامع مسجد په تشکیل کي یو خطیب یو مؤذن او یو خادم شامل دي او صغیر مسجد کي یو امام وي چي حکومت ورته معاش ورکوي. د خطیبانو میاشتني معاش ۱۶۵۰۰۰ افغاني امام او مؤذن ته ۱۵۶۰۰۰ او خادم ته ۱۴۷۰۰۰ افغاني معاش ورکول کیږي او معاشات په خپل وخت اجرا کیږي موږ په میاشت کي یو ځل د ټولو خطیبانو او امامانو او مؤذنانو شریکه غونډه لرو چي د ارشاد اسلامي د ریاست لخوا لازمي لارښووني او په ځینو کارونو کي مشوره ورکول کیږي .

پوښتنه : د اسلامي امارت له بریالیتوب وروسته د مسجدونو جوړولو او ترمیم ته څومره توجه شویده ؟

ځواب : د اسلامي امارت له بریالیتوب وروسته په ننگرهار کي ډیر مسجدونه جوړ شویدي چي ځني یي د اسلامي امارت په بودجه ځني د موسسو په مرسته او ځیني د خلکو په همکاري جوړ شویدي چي په دوی کي عیدگاه محمدي مسجد ، په چهار اهي کي د امام ابو حنیفه مسجد چي ځمکه هم ورته حکومت ورکړه د هډې فارم کي جامع مسجد په قصبه کي یو مسجد د نموني په توگه یادوو، او ځني مسجدونه چي ترمیم ته اړه لري نو د هغوي د ترمیم لپاره هم د ولایت مقام یو هیئت ټاکلي او کار یي روان کړیدي .

پوښتنه : مقدسه ځایونو د ترمیم کار مو څومره کړیدي ؟

ځواب : اسلامي امارت په اوسنیو شرایطو کي په بودیجه کي دومره وس نه لري خو خلك مودي کارته هڅولي دي چي په دي هکله هم ډیر کار شویدي د مثال په ډول د نجم الدین اخنزاده روضه چي خلکو په ډیره ښکلي ډیزاین او نقشه ترمیم کړله .

پوښتنه : سږ کال بیت الله شریف ته د حاجیانو د لیږلو څه تصمیم لري ؟

ځواب : د سعودي حکومت سږ کال موږ ته د ټول افغانستان په سطحه د یوولس زرو حاجیانو د ورلیږلو اجازه راکړیده د سعودي حکومت فیصله کړیده چي سږ کال یوازي هغو حاجیانو ته اجازه ورکړي چي د افغانستان د اسلامي امارت له لاري ځي، ځکه کوم حاجیان چي د رهبانی د اداري او یا د تنظیمونو له لاري هلته تلل اکثره بي بیرته نه راستنیدل چي د سعودي حکومت ته یي ستونزي پیدا کړي وي.

په دي یوولس زرو حاجیانو کي به یو نیم زر تنه خشیخ زون نه د کعبي شریفي په زیارت مشرف کیږي .

پوښتنه : ایا د حاجیانو د ښوونی یا دوی ته د حج د مناسکو د ښوونی څه تصمیم لري ؟

ځواب : موږ تیر کال هم حاجي کمپ جوړ کړي وو او سږ کال یي هم جوړوو چي هلته به د جیدو علماؤ لخوا حاجیانو ته دیني زده کړه او د حج مراسم ورښودل کیږي او د حج د مناسکو په نوم یو کتاب هم ورکوو.

پوښتنه : هر حاجي باید څو روپي اسلامي امارت ته ور تسلیم کړي ؟

ځواب : هر حاجي باید ۱۶۰۰ امریکایي ډالر تسلیم کړي چي په دي کي د الوتکي د دواړو خواو کرایه، د اوسیدلو د ځاي ، له جدي نه تر مکي بیا تر مدیني او بیا تر جدي کرایه هم شامله ده او که پیسي اضافه شي بیرته بي هم ورکوو.

پوښتنه : د رمضان المبارك میاشت په راوسیدلو په مساجدو کي د قرآن عظیم الشان د ختم څه تصمیم لري ؟

ځواب : موږ تصمیم لرو چي په ننگرهار کي ۱۲۰ ختمونه وکړو او یو سلو شل حافظانو ته شپږ لکه افغاني ورکړو او د خلکو اوولس لخوا چي کوم ختمونه کیږي هغه له دینه مستثني دي.

پوښتنه : ځني وقفي املاك د خلکو لخوا غصب شویدي د ددي د بیرته راگرځولو لپاره مو څه کړیدي ؟

ځواب : هو دلته ډیر وقفي املاك خلکو غصب کړیدي موږ په دي اړه اسلامي امارت ته پیشنهاد کړیدي هغوي یو هیئت وټاکه چي د ارشاد اسلامي او اوقافو، ښاروالي او د کا د ستر استازي په کي شامل دي. دي هیئت په بهسود او سره رود په ولسوالیو کي کار کړیدي او ځني ځایونه یي تثبیت کړیدي او په نورو ولسوالیو کي هم کار روان دي .

پوښتنه : د امامانو د روزني او تشویق لپاره کوم پروگرام لري؟

ځواب : موږ اراده لرو چي په نژدې راتلونکي کي خطیبانو، امامانو او مؤذنانو لپاره تربیوي سیمینار جوړ کړو .

زره سوي او ...

هکله ډیر اندیښمن نه یم دا ځکه چي هر هغه څه چي تاسي یي نن وینئ هغه ستاسي د عملونو پایله او نتیجه ده، زما دیره اندیښنه د اسلام او زموږ د راتلونکي نسل په هکله دي چي خداي مکړه زموږ او ستاسو د عملونو او بي همتي له کبله به له داسي بد انجام سره مخامخ شي چي بیا به یي څوك پیژندلي هم نشي او پوهیږي چي هغه نسل بیا پر موږ او تاسي څه وایي او تاسي به څنگه په مو یا دوی ...

هوا هلال بن زهره هم په سل ها و کلو مخکي له نن څخه د غرناطي په اسلام او خپلو ځانونو زړه سوي ته رابللي او د راتلونکي په هکله یي خپله هغه اندیښنه چي کټ مټ د اسلام حکم هم ده ورته روښانه کړي وه، اما افسوس چي هلته په اسلامي اندلس کي د ځینو مشرانو د نفس او لوړتیا غوښتني ، بي اتفاقي او بي همتي او د عوامو د ننداړچي پاتي کیدو له کبله اسلامي خلافت ختم او نن ورځ د اسلام او مسلمانانو نښي هم هلته نه ښکاري !!

موږ ته چي اوس په دي وخت کي اسلام او اسلامي وطن په میراث را رسیدلي ده که ددي ارزښتناکو په ویښو گټل شویو شتو په هکله زړه سوي ونه لرو او د خپل ځان، اولاد او راتلونکي نسل په باب د ښو او بدو اندیښني را سره نه وي نو خداي مکړه چي زموږ پایله به هم د هغو مسلمانانو په شان وي چي د تاریخ لوستل یي د هر با احساسه مسلمان گریوان د ارمان او افسوس په اوښکو لمدولاي شي. که ځان د پوره ایمان ، غیرت، پوهي تدبیر خاوندان او د اسلام، وطن او راتلونکي نسل په هکله زړه سواند بولو ، نو راځئ چي په تیرو تیروتنو توبه وکاږو او وروسته له دي خپل مقام، شته ، عزت، روغتیا او قوت په هغه شان د اسلام ، وطن، ځان او راتلونکي نسل د سوکالتیا په لاره په کار واچوو لکه څنگه چي لوي خداي «ج» پري رضا کیږي او د خپلي مرستي وړ مو گرځوي ، گران پیغمبر علیه السلام مو پري ښاد او د آخرت په ورځ مو د خپل امتي په توگه مني او مسلمانان او د اسلام راتلونکي نسل دعا راته کوي او زموږ په یادولو د ویاړ احساس ورته پیدا کیږي او که خداي مکړه له دي څخه پرته به نورو لارو روان او پردیو خیالونو کي ډوب پاتي شو نو بیا به له هغه دردناك انجام سره مخامخ شو چي زموږ د تباهي او خواري او د راتلونکي نسل د سرکوزي او شرمنده گي سبب به وگرځي.

کوفي عنان در گزارش خود ...

وي بر ادامه فعالیت هاي صلح امیز سازمان ملل متحد تاکید کرده اما گفت که حل سیاسي بحران افغانستان بعید به نظر مي رسد. کوفي عنان در مورد علت عدم همکاري مخالفان عملیه صلح افغانستان گفت که فتوحات طالبان موجب شده که سایر جناح هاي افغاني به مذاکرات با آنان تمایل نشان ندهند .

د مجاهدینو ۲۸۰۰ قاتلو ...

زي او جعفر سره یي د ملگرو ملتو په دفتر کي پناه اخستي وه .

د سهار ورځپاڼي د یو خبر مطابق اسحاق توخي نن سبا په نیو یارك کي د امریکي له خوا قائم شوي افغاني سیل د انچارج په صفت د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك پر خلاف سر گرمي کي ککړ دي.

د خبرونو مطابق د یرون سخت دښمن نن صرف له شریعت سره د مخالفت په وجه په امریکا کي دومره د قدر وړ دي.

د پښتو ادب د پنځم ستوري ...

د پنځم شنبي په ورځ تر ماسره پوري د کابل پوهنتون مشرتابه هیئت، د استادانو او محصلینو سربیره په لوړ کچ حکومتي چارواکو، د علم او ادب سره والو او د ارواښاد پوهاند صدیق الله رښتین د دوستانو او ارادتمندانو گډون کړي وو او د مرحوم روح ته د ثواب رسولو په خاطر د قرآن کریم تلاوت او دوعا وشوه.

ارواښاد پوهاند رښتین د پښتو ادب د پنځو ستورو څخه پنځم ستوري دو چي تیره ورځ یي د جسم رڼا تته شوه خو د علم او ادب رڼا به یي تل پاتي وي . ارواښاد رښتین په لسگونو توکو کتابونه لیکلي او ډیر د ادب مینان یي روزلي دي.

پیوستن محمد اکبري و...

مناسبات با امارت اسلامي تعهد نشان داده است

وي که با صداي امریکا صحبت مي کرد اظهار داشت که ایرانیان در اختلاف و کشمکش شدید سیاسي بسر برده و در قبال قضیه افغانستان و سایر مسایل جهاني با هم همنظر نیستند.

وي راجع به روابط امارت اسلامي افغانستان با کشور هاي همسایه گفت که ازبکستان اخیراً با تاجکستان اختلاف پیدا کرده از همین روز در صدد آن است با کشور هایي نظیر افغانستان در تماس شود زیرا روابط افغانستان با تاجکستان عادي نمی باشد، و بهمین ترتیب تاجکستان هم کوشش خواهد کرد که بخاطر مخالفتش با ازبکستان خود را با امارت اسلامي افغانستان نزدیك گرداند.

پاکستان شاهین توغندي...

شوي دي چي د هندي توغندیو په نسبت بي واتن ډیر چټك دي، پرسوي تر ممندي ۳۵۰ کلو متره او شاهین ۷۵۰ کیلو متره فاصله ویشتلاي شي.

د یر ټوي د توغندیو لپاره د نیمه ساعته وخت په کار دي په داسي حال کي چي شاهین په اوو دقیقو کي هدف ویشتلاي شي ډاکټر مبارك وویل چي موږ اوس کاملاً د خپلي دفاع ارتیا تر لاسه کړي ده .

...نن به د هند او نوري...

په دي لړ کي به مختلفو ښارونو کي د مظاهرو پروگرام جوړ کړاي شوي دي په دي اړه بو ځل بیا د هندوانو په لاس د مسلمانانو د وژل کیدو ویره ده، د هند حکومت بهرتیو اسلامو ته د احتیاط حکم کړي دي.

چهار صد عدد ماین ضد ...

توسط مجاهدین اردوي اسلامي در مربوطات ولسوالي بتکي از نزد ملیشه هاي فاسد گرفته شد که میخواستند بار دیگر با ارتکاب جنایات بزرگي در استعمال ماینها باعث شهادت و زخمي شدن عده کثیري از هموطنان بي گناه ما گردند. ماین هاي بدست آمده با علامت ساخت ایران نمایانگر مداخلات بي شرمانه ایران در امور داخلي کشور ما که اخیراً با ارسال ماین هاي ضد پرسونل به حلقات مزدور خود در داخل افغانستان میخواهد به زنده گي مزدوران خود براي چند روزي دوام بخشد.

خبر مي افزاید استعمال و بکار گیري از ماین هاي کشنده بار دیگر زماني توسط ملیشه ها صورت میگیرد که امارت اسلامي افغانستان در در نظر داشت اصول اسلامي و احساس بشر دوستي استعمال ماین را در هر نقطه از جهان مردود دانسته و به استعمال کننده گان آن نفرین مي فرستند.

محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور به ارتباط موضوع طي مصاحبه به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت : ماین هاي متذکره در حالي کشف و بدست آمده که مبارزه علیه ماین به سطح بین المللي آن جریان دارد هرگاه شوراي امنیت ملل متحد بخاطر جلوگیري از مداخلات خارجي کوشش نماید امکان دارد مناطق وسیع زراعتي و ساحات مسکوني زیادي در شمال شرق افغانستان با کار گذاري ماین ها از استفاده خارج گردد .

این ماین که براي هفتاد سال عمر دارد به ده ها سال در مقابل هموطنان ما میجنگد و مردم ما را به خطرات مرگ و معیوبیت مواجه میسازد .

محترم سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور افزودند ما یکبار دیگر از مسؤولین ایراني میخواهیم که با در نظر داشت حسن همجواري و همسایگي و اخلاق نیك از چنین دست اندازي در افغانستان دست بر دارد .

موصوف اضافه نمودند بدست آمدن مقدار زیاد ماینها و مهمات ساخت ایران در کشور ثبوت مداخله آشکار ایران در امور داخلي ما میباشد.

طي اجتماع وسیعي ...

اقوام مختلف آنجا شرکت داشتند ابتدا آیاتي چند از قرآن پاك قرائت گردیده بعداً تني چند از مسؤولین در رابطه به اهداف نیك امارت اسلامي افغانستان توضیحات همه جانبه ارائه نموده از همکاري مردم مسلمان علاقه داري کوه البرز ولایت بلخ با مسؤولین امارت اسلامي و تنفیذ شریعت غراي محمدي «ص» ابراز قدرداني نمودند.

بالفعل چند تن از نمایندگان اقوام مختلف آن علاقه داري بنمایندگي از دیگران صحبت نموده عملکرد هاي خیرخواهانه امارت اسلامي افغانستان در امر تأمین صلح و امنیت بنظر قدر نگریسته و فتوحات اخیر مجاهدین اردوي اسلامي را مورد ستایش قرار داده از تأمین امنیت مطمئن در مناطق شان ابراز خرسندي نموده هر نوع همکاري را درین راستا با امارت اسلامي اعلام نمودند.

اجتماع با قرائت دعائیه خیر و فلاح ملت مسلمان افغانستان پایان پذیرفت .

د گډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلنئ
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د شریعت تبصره

حقایق موجود تمام جهانیان را به قبول واقعیت ها در افغانستان مجبور خواهد ساخت

سازمان ملل متحد باید پالیسي خویش در قبال افغانستان را در محور حقایقي تنظیم کند که جناب کوفي عنان به آن اعتراف نموده است

اگر چه آقاي کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد طي اظهار راپور ترتیب کرده خویش در قبال اوضاع افغانستان به شوراي امنیت آن سازمان به حقایقي اعتراف نموده که قبلاً بدان قایل نبود. اما باز هم در بعضي موارد مرموزانه قدم گذاشته و کناره روي اختیار نموده است که اتخاذ چنین موقف بیطرفي مذکور را در برابر مسایل بین المللي خدشه دار مي سازد .

جناب کوفي عنان در راپور خویش واضح ساخته که ائتلاف مخالفین امارت اسلامي در افغانستان عملاً از صحنه کشیده شده و امارت اسلامي افغانستان موفق گردیده تا جناح مخالف را از پا در اندازد .

اعتراف آقاي عنان به حقایق فوق الذکر مصداق آنست که اکنون امارت اسلامي افغانستان در موقفي قرار دارد که خواهي نخواهي جهانیان باید به قبول و پذیرفتن اش آماده گردند، زماني بود که همین آقاي سرمنشي در حالیکه امارت اسلامي افغانستان از حمایت بیدریغ و کامل ملي و تحکیم حاکمیت و امنیت تقریباً سرتاسري در کشور برخوردار بود، همواره در رابطه به حالات افغانستان حاشیه روي مینمود و از ابراز حقایق شانه خالي میکرد چون حق بالاخره به جایش استقرار مي یابد بناً آقاي کوفي عنان نیز بیش از این نمیتوانست تا از قبول حقایق در افغانستان اجتناب ورزیده و آنرا نپذیرد همان بود که بالاخره به قبول حقایق تسلیم شد . قبلاً در مورد به رسمیت شناختن امارت اسلامي افغانستان از جانب سازمان ملل متحد آقاي عنان استدلال مینمود که هنوز در مقابل امارت اسلامي مقاومت منظم وجود دارد و ما نمیتوانیم تا در چنین حالات امارت اسلامي افغانستان را برسمیت بشناسیم حالا که خود آقاي عنان به نابودي عملي ائتلاف مخالفین اعتراف نموده خیلي بي انصافي خواهد بود تا سازمان ملل متحد و آقاي سرمنشي آن در مورد به رسمیت شناختن امارت اسلامي افغانستان سهل انگاري ورزد.

سرمنشي سازمان ملل متحد در راپور خویش علاوه مینماید ادامه جنگ در قسمتي از افغانستان نتیجه مداخلات خارجیان در امور افغانستان است، در این مورد، نیز به آقاي عنان ابراز مي داریم که این اعتراف موصوف نیز بر حق است امارت اسلامي افغانستان صد ها موارد و شواهد غیر قابل انکار مداخلات کشور هاي روسیه، ایران و هند در امور افغانستان و تسلیح و اکمال مخالفین امارت اسلامي را توسط آنها چندین مراتبه به گوش جهانیان رسانیده اما هیچکس بدان گوش ننهاده است، کشف ذخایر بي شمار اسلحه و مهمات با نشان فابریکات روسیه و ایران در مناطق مفتوحه شمال ، توقف نظاره آهن حامل صد ها تن اسلحه ایران در قرغزستان ، پرواز شبا روزي طیارات نظامي روسیه و ایران از کولاب و مشهد به بدخشان و تخار و غیره ده ها اسناد مداخلات دشمنان افغانستان در امور داخلي. همه و همه حقایقي است که قبلاً امارت اسلامي آنرا افشاء ساخته اما متاسفانه که جهانیان و سازمان ملل متحد بدان وقعي نگذاشته است . مناسب و لازم بود تا آقاي عنان در راپور خویش به حقیقت مذکور صریحاً اعتراف مینمود و جانب مداخله گر را علناً افشا مي ساخت و در راه توقف مداخلات مذکور قدم هاي عملي برمیداشت که افسوس چنین نه کرد، اما بالاخره روزي خواهد رسید که آقاي سرمنشي و غیره جهانیان به این واقعیت نیز معترف خواهند شد که مداخلات صریح نظامي ، سیاسي ، اقتصادي و تبلیغاتي روسیه، ایران و هند عامل دوام جنگ در بخشي از شمال شرق افغانستان است قسمت هاي دیگر راپور سرمنشي ملل متحد شامل مسایلي است که ذکر آن عادت همیشگي مخالفین امارت اسلامي افغانستان بوده و همواره غرض پنهان نمودن جنایات غیر انساني و نقض صریح حقوق بشر توسط ملیشه ها ، جانب امارت اسلامي را نیز در آن شریك نموده است که از حقایق موجود در مناطق تحت حاکمیت امارت اسلامي اغماض واضح محسوب میگردد.

آقاي کوفي عنان در مقامي قرار دارد که اگر بیطرفانه و جرأت مندانه حالات را تحلیل نموده و بدون تعمیل اوامر و هدایات دشمنان امارت اسلامي افغانستان عادلانه در رابطه به اوضاع افغانستان اتخاذ موقف و تصمیم عادلانه نماید خیلي زود و سهل است تا آخرین بقایاي شر افروزان نیز از افغانستان محو گردیده و مداخلات خارجي در افغانستان پایان یافته و مردم رنج کشیده افغانستان صاحب یك زندگي آرام و مرفه گردند، اکنون لازم است تا هرچه زودتر سازمان ملل متحد پالیسي خویش در قبال افغانستان را در محور حقایقي تنظیم کند که آقاي کوفي عنان بدان اعتراف نموده است در غیر آن آقاي سرمنشي حیثیت خویش را به صفت سرمنشي سازمان ملل متحد لکه دار ساخته و احترامي را که بنا بر خدمت صادقانه در راه اعاده صلح و امنیت در جهان از جهانیان توقع دارد از دست خواهد داد .

SHARIAT WEEKLY
Published by
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanafi.
Peshawar .Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press